# د افغانستان د شته وضعیت په اړه د هېواد
# د علماوو متفقه فتوا

دوشنبه - ۱۴ جوزا، ۱۳۹۷ هـ ش

د لویې جرګې تالار

کابل-افغانستان

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغانستان د شته وضعیت په اړه د هېواد د علماوو متفقه فتوا

------------------------------------------------------------------------

الحمد الله و الصلاة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين و على آله و اصحابه اجمعين

قال الله تبارك و تعالى: ﴿وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا ۖ فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ ۚ فَإِن فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا ۖ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ (۞) إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾

(سورة الحجرات آيات ۹-۱۰)

ترجمه : او که له مومنانو څخه دوې ډلې پخپلو منځو کې په جنګ شي ، نو دهغو په منځ کې صلحه وکړئ . بیا که له هغو څخه یوه ډله پر بلې تیری وکړي ، نو له تیري کوونکي (ډلې) سره وجنګیږئ، تر دې پورې چې هغوی د الله حکم خوا ته را وګرځي . بیا کله چې هغوی راوګرځي ، نو په منځ کې یي عدل سره سوله وکړئ ، او انصاف وکړئ چې الله انصاف کوونکي خوښوي.

مؤمنان خو یو بل سره ورونه وي، نو د خپلو ورونو په منځ کې مناسبات سم کړئ، او د الله څخه وویریږئ، هیله ده چې پر تاسې رحم وکړای شي

## مقدمه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو لسيزې کېږي چې افغانستان د جګړې په اور کې سوځي. له بده مرغه د دې جګړې قربانيان يوازې افغانان دي. په ځانګړې توګه په وروستيو ۱۶ کلونو کې دافغانستان جګړه ډېر خونړي حالت ته رسيدلې. هيڅ راز ديني ارزښتونو او ملي معيارونو ته په کې درناوی نه کيږي. د پرديو دغې تحميلي او تپل شوې جګړې د افغان ولس زغم پای ته رسولی. هره ورځ د د دواړه لوريو له خوا په جګړو کې په لسګونه ځوانان، ماشومان او سپين ږيري وژل کيږي. ميندې بورېږي او بچيان يتيمان کيږي او په سلګونو ځوانان هيواد پرېښودو ته اړ کيږي.

افغانستان کې د روانې جګړې قربانيان ملکي وګړي او بې ګناه افغانان دي. له داسې وسيلو لکه انتحار، انفجار، درنو بمونو او نورو ناوړه او غير شرعي اعمالو څخه پکې ګټه اخستل کيږي،چې په هيڅ وجه توجيه کيدلی نه شي. همدې وخيم وضعيت ته په کتو موږ علماء په افغانستان کې روانه جګړه ناروا عمل ګڼو او ټينګار کوو چې دغه جګړه هيڅ راز ديني او شرعي صبغه نه لري. همدا جګړه ده چې بېروني مداخلو ته يې زمينه مساعده کړې او د اسلام او افغانانو د بدنامۍ سبب شوې ده.

پورته ناخوالو ته په پام سره مونږ د افغانستان علماء، مفتيان، خطباء، د ټولو ديني او ټولنيزو بنسټونواستازي او روحاني شخصيتونه په افغانستان کې د جګړې دغه ناورين ته د ﴿فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ (سورة النحل آيت ۴۳ او سورة الأنبياء آيت ۲۱) د مسئوليت او ديني رسالت پر بنسټ خپل موقف څرګندوو.

## د افغانستان لنډ تعريف او پيژندنه:

افغانستان ته په ۳۲ هجري کال يعني د حضرت عثمان ذي النورين رضي الله تعالی عنه په وخت کې اسلام رارسيدلی دی. دغه هېواد بيا تر اوسه په دغه دين نه يوازې ولاړ او ثابت پاتې شوی بلکې په دې لاره کې يې ډېرې سترې کارنامې او قربانۍ ورکړي. د اسلام په خپرولو او د اسلامي علمي مرکزونو په جوړښت کې يې رغنده رول ادا کړی. اسلامي امت ته يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تفسیر، احادیثو، فقه، تصوف او نورو علمي برخو کې بې شمیره ځلانده ستوري وړاندې کړي دي.

نه یوازې ولس او خلکو آن تر دې چې د دغه خاورې حاکمانو د اسلام په خپرولو کې ډیر لوی ګامونه اوچت کړي دي. د غزنویانو، غوریانو، سوریانو، هوتکیانو او ابدالیانو دورونه د دې هیواد د تاریخ هغه زرین دورونه دي چې الله سبحانه و تعالی د دوی په وسیله په اسیا کې اسلام خپور او ملیونونو انسانانو ته یې د وحدانیت پیغام رسولی.

د دغې خاورې علمي مرکزونه – بلخ، بُست، هرات، فاریاب ، سجستان (اوسنی زرنج یا نیمروز) او غزنی د اسلام د طلائي پېړیو تاریخي ځلي دي.

دا هم د اسلام په تاریخ کې ډیره ښکاره او څرګنده ده چې د دین د ډیرې لویې برخې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د احادیثو انتقال او روایت د سلګونو بُستیانو، هرویانو، بلخیانو او فاریابیانو په وسیله شوی چې اسلام او مسلمانانو ته د خدمت ډیر غوره مثالونه جوړوي. د حنفي مذهب مؤسس امام ابو حنیفه رحمه الله، د احادیثو د شپږو امامانو د استاذ امام قتیبة بن سعید بغلاني رحمه الله، علامه خطابي بستي ، یوسف فاریابي، خواجه عبدالله انصاري، مولانا جلال الدین بلخي، مولانا عبدالرحمن جامي، سنايي غزنوي رحمة الله تعالی علیهم او د نولسمې پیړۍ نوښت غوښتونکي عالم او د اسلامي ویښتابه د سرلاري علامه سید جمال الدین افغان شتون د دې هېواد د اسلامي برم او تاریخ ویاړلي نمونې دي.

د دې هیواد مدون او غیر مدون قوانین د تاریخ په اوږدو کې د دین پر بنسټ ولاړ دي او د شرعي اصولو څخه یې سرچینه اخیستې ده. په تیره بیا د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون چې په پوره ډول په اسلامي اصولو او معیارونو ولاړ دی او د اسلام سره په ټکر کې هیڅ قانون ته د جواز حق نه ورکوي، چې د دې خاورې د خلکو او حکومت اسلامي څېره په ډیره واضحه توګه بیانوي. د دغه قانون لومړۍ ماده وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"افغانستان خپلواک، واحد، نه بېلېدونکی اسلامي جمهوري دولت دی".

او دویمه ماده وایي:

"د افغانستان د اسلامی دولت دین، د اسلام سپیڅلی دین دی".

د دغه قانون دریمه ماده بیا داسې وایي:

په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي".

په ۳۵ ماده کې د سیاسي ګوندونو د جوړښت په لومړي شرط کې داسې راځي:

"د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپېڅلي دین د احکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي".

د دې قانون ۴۵ ماده د هېواد د تعلیمي نصاب د جوړښت لپاره داسې شرطونه وړاندې کوي:

"دولت د اسلام د سپېڅلي دین د حکمونو او ملي فرهنګ پر بنسټ او له علمي اصولو سره سم، واحد تعلیمي نصاب طرح او تطبیقوي او د ښوونځیو د دیني مضمونونو نصاب د شته اسلامي مذهبونو پر بنسټ تدوینوي".

د ۵۴ مادې په دویم پاراګراف کې داسې وایي:

"دولت د کورنۍ او په ځانګړي توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تأمین، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي".

د دغه قانون ۶۳ ماده چې د جمهور رئیس د لوړې متن په کې راغلی دی په لومړي پاراګراف کې داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"د لوی خدای (جل جلاله) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین پیروي او ساتنه وکړم."

په ۷۴ یمه ماده کې د وزیرانو د لوړې په برخه کې هم همدغسې متن راغلی دی:

د دغه قانون په ۱۱۹ ماده کې د سترې محکمې د غړو په لوړه کې داسې راځي:
"د لوی خدای (جل جلاله) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلې دین له احکامو، په دې اساسي قانون او نورو قوانینو کې د راغلو نصوصو سره سم حق او عدالت تأمین او د قضاء وظیفه په بشپړ امانت، صداقت او بې طرفۍ اجراء کړم."

د دغه قانون په ۱۴۹ ماده کې داسې راغلي:

"د اسلام د سپیڅلي دین له حکمونو څخه د پیروۍ اصل او اسلامي جمهوري نظام نه تعدیلیږي."

د افغانستان اسلامي دولت ټولې محکمې د محمدي صلی الله علیه و سلم غراء شریعت په رڼا کې فیصلې کوي. ځکه د افغانستان ټول مدني او جزائي قوانین د شریعت او فقهې اصولو پر بنسټ تدوین شوي دي. زمونږ ټول ولس په دیني شعائرو معتقد او د دیني احکامو څخه پیروي او خپل عبادات په ښکاره او د هیڅ ډول خوف څخه پرته تر سره کوي. د دغه هیواد تاریخ په دې شاهد دی چې دغه ولس د اسلام څخه د دفاع په لار کې ملیونونه قربانۍ ورکړي دي.

مونږ د افغانستان علماء ټول په دې سلا یو چې دغه هیواد مسلمان هیواد، دولت ئې اسلامي، ولس ئې مسلمان دی او په وړاندې یې د اسلامي نصوصو سره سم جهاد هیڅ ډول جواز نلري. مونږ ډاډمن یو چې دا ملت به د زمکې په سر د شتون تر وروستیو شېبو به د اسلام په سپیڅلي دین پابند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې هیواد له ۹۹ فیصده ډېر وګړي مسلمانان دي او د مسلمانانو ترمنځ جګړه کول غیر شرعي عمل دی. د قرآني او نبوي نصوصو پر بنسټ، د اسلامي حکومت پر وړاندې د دین په نامه د وسلې پورته کول او وسله وال فعالیتونه تر هغې چې له حاکمانو څخه بواح کفر نه وي صادر شوی، ناروا عمل بلل شوی دی. د مسلمانو حاکمانو د حکم څخه اطاعت د قرآن امر دی او که په دې برخه کې کومه شخړه رامنځ ته کېږي د قران او سنتو په رڼا کې باید ورته د حل لارې چارې ولټول شي الله عز وجل فرمايي:

﴿ يا أَيُّهَا الَّذينَ آمَنُوا أَطيعُوا اللَّهَ وَ أَطيعُوا الرَّسُولَ وَ أُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ فَإِنْ تَنازَعْتُمْ في شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَ الرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَ الْيَوْمِ الْآخِرِ ذلِكَ خَيْرٌ وَ أَحْسَنُ تَأْويلاً﴾ **(سورة النساء آيت ۵۹).**

ژباړه : اې مؤمنانو! د الله، رسول او هغو کسانو اطاعت وکړئ چې ستاسي څخه د امر خاوندان وي، بیا که ستاسي تر منځ په کومه چاره کښې شخړه پېښه شي؛ نو هغه د الله او رسول لوري ته محوله (وړاندي) کړئ. که تاسي په رښتیا سره پر الله او د اخرت په ورځ ایمان لرئ، همدا د کار یوه سمه طریقه ده او د عاقبت په اعتبار هم غوره ده.

د پورتنیو نصوصو څخه دا څرګندېږي چې جګړه په دې اسلامي هیواد کې مردوده او په ځای ئې سوله یو ضرورت او د سولې راوستل او د هغې لپاره هڅه او هاند کول یوه دیني وجیبه او مسئولیت بلل کیږي چې په راتلونکي برخه کې په همدې بحث کوو.

## <u>په افغانستان کې د سولې اهمیت، ضرورت اووجوب:</u>

له هغه ځایه چې سوله د اسلام د مقدس دین فطري حالت دی او هر څوک امن، سولې، او خپل منځي اصلاح ته رابولي نو د دغه دین نصوص سوله په هره کچه په ډېر قوت سره مطرح کوي او د سولې خوا ته خپل پیروان دعوت کوي. د سولې کلمه چې په عربي کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

«صَلَحَ» له مادي څخه اخيستل شوې ده په دين کې داسې اهميت لري چې د انساني ټولنې د ډېر کوچني بنسټ يعني کورنۍ لپاره اسلام سوله ضروري ګڼي او د ښځې او مېړه تر منځ د سولې د رامنځته کيدو لپاره يو ډېر عجيب ميکانيزم وړاندې کوي. د نساء سورې ۱۲۸ آيت د مېړه او ښځې ترمنځ دناخوالو په پيداکولو سره هدايت ورکوي چې:

﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِنْ بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ... الآية﴾ **(سورة النساء آيت ۱۲۸)**،

ژباړه: کله چې کومه ښځه د خپل مېړه له ناوړه چلند يا مخ اړوني څخه په ويره کې وي ، نو هيڅ باک نه شته که مېړه او ميرمن ( د څه حقوقو پر کمولو ، زياتولو ) په خپلو منځو کې کې روغه جوړه وکړي ، روغه جوړه په هر حال ډېره ښه ده ...

**آن تردې چې که ښځه او مېړه په خپلو کې د روغې جوړې په راوستلو بريالي نشول و نفاق او شقاق د ايجاد ويره پيدا شوه نو بيا الله سبحانه و تعالى د دواړو کورنيو (د ښځې او مېړه کورنۍ) څخه د يو يو تن حَکَم د ټاکلو فيصله کوي:**

﴿وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا﴾ **(سوره النساء آيت ۳۵).**

ژباړه: او که تاسې چېرته د مېړه او ميرمنې د اړيکو د خرابيدو په باب انديښمن ياست ، نو يو منځګړی د مېړه له خپلوانو څخه او ديو ميرمنې له خپلوانو څخه وټاکئ. که هغوی دواړه روغه جوړه کول وغواړي ، نو الله به د هغو دواړو تر منځ توافق لاره برابره کړي . الله په هر څه پوه او باخبره دی.

له دې څخه په څرګند ډول معلومېږي چې الله سبحانه و تعالى ته د دوه کسانو ترمنځ شخړه دومره مهمه ده چې د هغې د له منځه وړلو لپاره د يوه مرتب ميکانيزم هدايت کوي چې په لومړۍ مرحله کې ئې، خپله په شخړه کې ښکيل کسان د سولې د راوستلو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

موظفوي. خو د دوې د پاتې راتلو په حال کې بیا په نورو غړ کوي تر څو خپل فرض د دغه ټولنيز کوچني خو ډير مهم بنسټ کې د سولې د راوستلو په هکله اداء کړي.

دغه راز سوله د الهي سنتو په رڼا کې له ټولو نورو دنيوي امورو څخه مهمه ګڼل کيږي او په دې هکله د ابراهيم عليه السلام دعا د مکې د ښار په اړه يو قوي دليل او بيلګه ده ځکه چې لومړی د امن او بيا د ښار د خلکو د اقتصادي سوکالۍ غوښتنه کوي. الله عز وجل دغې مسئلې ته په دې آيت کې اشاره کوي:

﴿وإِذْ قَالَ إِبْرٰهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا ءَامِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُۥ مِنَ الثَّمَرٰتِ مَنْ ءَامَنَ مِنْهُم بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْأَخِرِ ...الآيه﴾ (سورة البقرة آيت ۱۲۶).

ژباړه : او دا چې ابراهيم (ع) دُعا وکړه: "اې زما ربه! دا ښار(مکه) د امن ښار وګرځوه، او ددې له اوسېدونکو څخه چې څوك الله او اخرت مني، هغو ته هر ډول مېوې روزي کړه".

د رسول الله صلی الله عليه و سلم سيرت او د هغه ژوند د سولې او د اصلاح د راوستلو د پېښو څخه ډک دی چې غټې بېلګې ئې د اوس او خزرج د قبيلو ترمنځ څو سوه کلنې جګړې او دښمنۍ ته د پای ټکی ايښودل، د مدينې تړون، حتی د مشرکينو سره د حديبيې سوله (چې الله سبحانه و تعالی ورته د فتح مبين نوم ورکړی دی)، د يهودو قبيلو سره مختلف تړونونه او د نصاراوو د نجران د قبيلې سره تړون ټول د دې ځرګندونه کوي چې په اسلام کې سوله او د هغې ضرورت په کوم حد کې دی. حتی الله سبحانه و تعالی خپل رسول صلی الله عليه وسلم ته د مکې د مشرکينو په اړه وايي چې کله هغوی سولې ته مېلان وښود نو ته هم سولې ته مايل شه. په دې اړه قران عظيم الشان داسې فرمايي:

﴿وَإِن جَنَحُوا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ **(سورة الانفال آيت ۶۱)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: او [اې پيغمبره صلی الله عليه وسلم!] که دښمن د روغې جوړې خوا ته مېلان ولري، نو ته هم د هغې لپاره تيار اوسه او پر الله توکّل وکړه. په يقيني ډول هماغه د هر څه اورېدونکی او په هر څه پوهېدونکی دی.

خو کله چې دغه مسئله د دوه مسلمانو ډلو ترمنځ وي نو بيا خو څو برابره له دې څخه د زيات اهميت درلودونکې ده. کله چې د بدر غزا څخه وروسته د غنايمو په وېش کې د مسلمانانو ترمنځ اختلاف راځي نو د دغه اختلاف د سمدستي حل لپاره الله سبحانه و تعالی د انفال سورې لومړي آيت کې داسې حکم کوي:

﴿... وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ﴾ **(سورة الانفال آيت ١).**

ژباړه:. نو تاسې له الله څخه ووېرېږئ او خپل منځي اړيکې سمې کړئ. د الله او دهغه د پيغمبر اطاعت وکړئ که تاسو مومنان ياست

کله چې د قباء مسجد د خلکو په منځ کې شخړه واقع کيږی نو د خدای رسول صحابه کرامو ته وايي چې راځئ چه د هغو په منځ کې اصلاح (سوله) راولو دغه حديث بخاری شريف داسې نقل کوي:

**[حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الأُوَيْسِىُّ وَإِسْحَاقُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْفَرْوِىُّ قَالاَ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِى حَازِمٍ عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ - رضى الله عنه أَنَّ أَهْلَ قُبَاءٍ اقْتَتَلُوا حَتَّى تَرَامَوْا بِالْحِجَارَةِ ، فَأُخْبِرَ رَسُولُ اللَّهِ - صلى الله عليه وسلم - بِذَلِكَ فَقَالَ « اذْهَبُوا بِنَا نُصْلِحُ بَيْنَهُمْ ».] (صحيح البخاری حديث ٢٦٩٣).**

ترجمه: د قباء خلک په خپلو منځو کې سره په جګړه ښکيل شول ، تر دې چې په کاڼو يې يو بل وويشتل، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر شو ، نو ويې ويل : ما وروړئ چې ترمنځ يې سوله وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله سبحانه و تعالى حتى پټې سري خبرې چې يو ناروا عمل دى خو د خلكو د اصلاح لپاره ئې هغه جائز ګڼلى دى لکه چې په قرآن كريم كې فرمايي:

﴿لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِنْ نَجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا﴾ **(سورة النساء آيت ۱۱۴)**

ژباړه : د خلكو په پټو مجلسونو كې زياتره څه ښيګڼه نه وي. هو، كه څوک په پټه توګه د صدقې او خيرات لارښوونه وكړي يا د كوم ښه كار لپاره يا د خلكو په چارو كې د اصلاح كولو لپاره چا ته څه ووايي ، نو البته دا ښه خبره ده ، او څوک چې د الله د خوشالولو په خاطر داسې وكړي، هغه ته به موږ لوى ثواب ورپه برخه كړو.

قرآن كريم د مسلمانانو د دوه ډلو د جګړې د ختمولو لپاره نور مسلمانان مكلفوي او هغو ته داسې هدايت وركوي:

﴿وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ﴾ **(سوره الحجرات آيت ۹)**

ژباړه: او كه له مومنانو څخه دوې ډلې پخپلو منځو كې په جنګ شي ، نو دهغو په منځ كې سوله وكړئ . بيا كه له هغو څخه يوه ډله پر بلې تيرى وكړي ، نو له تيري كوونكي (ډلې) سره وجنګيږئ، تر دې پورې چې هغوى د الله حكم خوا ته را وګرځي . بيا كله چې هغوى راوګرځي ، نو په منځ كې يي عدل سره سوله وكړئ ، او انصاف وكړئ چې الله انصاف كوونكي خوښوي.

(۹) او بيا په دې تاكيد كوي او وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾
**(سوره الحجرات آیت ۱۰)**

ژباړه: بې شکه همدا خبره ده چې مؤمنان خو سره ورونه دي، نو تاسو د خپلو دواړو ورونو په منځ کې سوله وکړئ، او د الله نه ووېرېږئ، ښايي چې پر تاسو رحم وکړئ شي.

همداراز د مسلمانانو ژوند ته الله سبحانه و تعالی ډېر اهميت ورکړی چې حتی د مؤمنانو د ژوند د حفاظت لپاره ئې د قتال څخه ممانعت کړی دی لکه څرنګه چې په دې آيت کې فرمايي:

﴿وَلَوْلَا رِجَالٌ مُؤْمِنُونَ وَنِسَاءٌ مُؤْمِنَاتٌ لَمْ تَعْلَمُوهُمْ أَنْ تَطَئُوهُمْ فَتُصِيبَكُمْ مِنْهُمْ مَعَرَّةٌ بِغَيْرِ عِلْمٍ لِيُدْخِلَ اللَّهُ فِي رَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ لَوْ تَزَيَّلُوا لَعَذَّبْنَا الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا﴾ (سورة الفتح آيت ۲۵).

ژباړه: که (په مکه کښې) داسې مؤمن نارينه اومؤمني ښځې موجودې نه وای چې تاسې يې نه پيژنئ؛ او که دا خبره نه وای چې په نا اګاهانه ډول به تاسې هغوی پايمال کړئ؛ او پدې سره به د بې علمۍ په حال کښې پر تاسې پړه راشي (نو د جنګ مخنيوی به نه وای شوی. مخنيوی د دې لپاره وشو) چې الله چې چا ته وغواړي پخپل رحمت کښې يې داخل کړي. هغه مؤمنان که بېل شوي وای، نو د مکې له خلکو څخه چې کوم کسان کافران ول، هغو ته به موږ هرو مرو دردناکه سزا ورکړې وای.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د مسلمانانو ترمنځ د شخړې د اصلاح په هکله دومره حساس و چې شخصاً خپله د شخړو د حل لپاره تلو او دغه کار ته ئې په بل هر کار لومړيتوب ورکاوه نو ځکه اصلاح ذات البين ورته ډېره مهمه او ضروري ښکاري او داسې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**[حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلَاةِ وَالصَّدَقَةِ؟» قَالُوا: بَلَى، يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: «إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ، وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ الْحَالِقَةُ»] (سنن أبي داود حديث ۴۹۱۹).**

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : ایا له داسې څه مو خبر نکړم چې له روژې، لمونځ، او صدقې يي درجې او اجر زيات وي ، صحابه عرض کوي چې بلې يا د الله رسوله. د خدای پيغمبر ورته وايي: د خلکو ترمنځ اصلاح ، ځکه د خلکو ترمنځ فساد ويجاړونکی دی.

په بل حديث کې چې طبراني په المعجم الکبير کې نقل کړی دی داسې راغلي دي:

**[حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بن غَنَّامٍ ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِبن أَبِي شَيْبَةَ ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بن مُوسَى ، عَنْ مُوسَى بن عُبَيْدَةَ ، عَنْ عُبَادَةَ بن عُمَيْرِبن عُبَادَةَ بن عَوْفٍ ، قَالَ : قَالَ لِي أَبُو أَيُّوبَ : قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : يَا أَبَا أَيُّوبَ ، أَلا أَدُلُّكَ عَلَى صَدَقَةٍ يُحِبُّهَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ ؟ تُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ إِذَا تَبَاغَضُوا ، وتَفَاسَدُوا .] (المعجم الكبيرللطبر اني حديث ۳۸۲۵).**

ژباړه : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

يا ابا ايوبه! داسې صدقه درته ونه ښآيم چې د الله او د الله د رسول ډيره خوښېږي ؟ د خلکو ترمنځ سوله کوه ، کله چې په شخړه اوړي او کله چې فساد رامنځ ته کېږي.

د قرطبی تفسير پورتني حديث ته ورته حديث راوړی او له هغه څخه وروسته د امام اوزاعي رحمه الله دغه قول رانقلوي:

"ما خطوة أحب إلى الله عز وجل من خطوة في إصلاح ذات البين، ومن أصلح بين اثنين كتب الله له براءة من النار "

ژباړه: هيڅ حرکت د الله پر وړاندې دومره محترم نه دی لکه د خپلمنځي شخړو حل ، چا چې د دوه کسانو ترمنځ سوله وکړه الله جل جلاله به ورته له اوره خلاصون وليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورتنيو ايتونو، احاديثو او د امت د علماؤو د اقوالو څخه داسې څرګنديږي چې سوله په لومړۍ مرحله کې د جګړې په دوه ښکيلو مسلمانو اړخونو واجب ده. که چيرې دوی په دې قادر نشي نو بيا د هغوی ترمنځ د اصلاح او سولې راوستل په نورو مسلمانانو واجب ګرځي.

نو ځکه مونږ علماء د افغانستان په جګړو کې په ښکيلو غاړو غږ کوو چې د خپلو مسلمانو ورونو په مقابل کې جګړه - هغه جګړه چې پايله يې د تباهۍ او بې ګناه انسانانو له وژلو پرته نور څه نه ده - پريږدي او د سولې لاره خپله کړي. د خپلو مسلمان ورونو او اسلامی جمهوريت سره د سولې خبرو اترو ته کېنی. مونږ په دې باور يو چې د مخامخ مذاکراتو له پېل سره به د دواړو خواوو غوښتنو او ستونزو ته چې د جګړې د دوام لامل شوي دي، مناسبې حل لارې ومونډل شي.

خو که چيرې مخالفين بيا هم دغې ناجائزې جګړې ته دوام ورکوي نو بيا مونږ علماء د اسلامي هيوادونو په حکومتونو او په ځانګړي ډول د اسلامي امت په علماوو غږ کوو چې د خپل شرعي مکلفيت او مسئوليت پر بنسټ د خپلو مسلمانو ورونو ترمنځ اصلاح ته را وړاندې او خپله دنده تر سره کړي.

مونږ علماء د حکومت لخوا د ولس د اجماع، ديني، ټولنيزو، ملي او نړيوالو بنسټونو سره د سلا مشورې وروسته طالبانو ته د سولې او مذاکراتو د بې قيده او شرطه طرحې چې د تېر هجري شمسي کال (۱۳۹۶) د کب په مياشت کې، چې د ۲۰۱۸ ميلادي کال د فبروري مياشت سره سمون خوري، وړاندې کړه، څخه په کلکه ملاتړ او مننه کوو. همداراز دغه وړانديز د حکومت د سولې غوښتنې نيت او عمل څرګندوي.

مونږ علماء له طالبانو په کلکه غوښتنه کوو چې د سولې په اړه د افغانستان حکومت وړانديز ته مثبت ځواب ووايي ترڅو د مسلمانانو د لا زياتو وينو توئېدو مخنيوی وشي. دواړه غاړې بايد لومړی دا ومني چې مخامخ خبرو اترو ته کېني او وروسته د ديني اصولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په رېنا کې د یوې هراړخیزې سولې په طرحه سلا شي. له دې سره به د جګړې څخه ستړی ولس د سولې څخه برخمن او د سوکاله ژوند څښتن شي. موږ علماء په دې برخه کې هر راز قربانۍ او منځګړتوب ته حاضر یو. مونږ په دې عقیده یو چې د سولې په موجودیت کې د اسلامي شعایرو د تطبیق لپاره بهتره زمینه مساعده کېږي او د هر ډول فساد او بېروني مداخلو څخه مخنیوی کېږي. همدا سوله ده چې د هیواد څخه به د خارجي قواوو د وتلو مهال وېش ته لاره هواره کړي او د بهرنیانو د شتون ضرورت له مینځ وړي. او په دې اړه حکومت او ولس دواړه سره سلا دي.

## په افغانستان کې روانه جګړه ناجائزه او هیڅ ډول شرعي صبغه نلري:

روانه جګړه او د هغې مختلف ډولونه د شریعت او دیني نصوصو له نظره ناروا ده او د مسلمانانو د وینې تویدنې پرته بل هیڅ نتیجه نه ورکوي. په دې اړه لاندیني نصوص شاهد دي.

د مؤمن قتل قرآن عظیم الشان لویه او نه بښونکې ګناه بللې او داسې فرمایي:

﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾ **(سورة النساء آیت ۹۳).**

ژباړه: پاته شو هغه څوک چې کوم مومن له پوهې او ادراک سره سره ووژني ، نو د هغه سزا دوزخ دی چې په هغه کې به د تل لپاره استوګن وي ، پر هغه د الله غضب او لعنت دی او الله د هغه لپاره لوی عذاب تیار کړیدی.

دا خو هغه شدید وعید دی چې الله تعالی ئې د مؤمن د قتل په جزا کې ورکوي او دا په څرګند ډول د مؤمن د وینې د نه تویلو په معنا دی خو کله چې د مؤمن د قتل مسئله مطرح کېږي نو هغه به د خطا قتل په بڼه کې وي. همدا رنګه په بل آیت کې فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ **(سورة النساء آيت ۹۲).**

ژباړه: دا د یو مومن کار نه دی چې بل مومن ووژني ، مګر دا چې خطا ورڅخه وشي. او څوک چې کوم مومن په خطایي سره ووژني ، نو د هغه کفاره د یو مومن مریي ازادول دي . او که هغه وژل شوی مومن د کوم یو داسې نامسلمان قوم وګړي و چې له هغه سره ستاسې تړون و ، نو د هغه وارثانو ته به د وینو بیه ورکول او د یو مومن غلام ازادول وي . نو که څوک غلام ونه لري ، پر له پسې دي دوې میاشتې روژه ونیسي ، دا پر دې ګناه باندې الله ته د توبې ایستلو طریقه ده. او الله د علم او پوهې خاوند دی

له دې څخه مهمه مسئله دا ده چې حتی هغه حربي کافر چې د جګړې پر مهال د مسلمان د تورې لاندې راشي او صرف کلمه ووايي د هغه قتل هم لويه ګناه شمېرل شوې ده او رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل ډیر ګران صحابي حضرت اسامه بن زید رضی الله تعالی عنهما په دې عمل توبیخ کړی دی لکه چې په دې حدیث کې راځي:

**[حدَّثنا الحسنُ بن عَليٍّ وعثمانُ بن أبي شَيبةَ -المعنى- قالا: حدَّثنا يعلَى بن عُبيدٍ، عن الأعْمشِ، عن أبي ظَبيانَ حدَّثنا أُسامة بن زيدٍ، قال: بعثَنا رسولُ الله -صلَّى الله عليه وسلم- سريةً إلى الحُرقَاتِ، فَنَذِرُوا بنا، فهربوا، فأدركْنا رجلاً، فلما غَشِيناه، قال: لا إله إلا اللهُ، فضربْناه، حتى قتلناه، فذكرتُه للنبي -صلَّى الله عليه وسلم-، فقال: "مَنْ لكَ بلا إله إلا الله يومَ القيامة؟ ". فقلت: يا رسول الله، إنما قالها مخافَةَ السلاح، قال: " أفلا شَققْتَ عن قلبه حتى تعلمَ مِن أجلِ ذلك قالها أم لا؟ مَنْ لكَ بلا إله إلا اللهُ يومَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**القيامةِ؟ " فما زالَ يقولُها حتى ودِدْت أني لم أُسلم إلا يومئذ.] (سنن ابي داؤد حديث ۲۶۴۳).**

ژباړه: اسامه بن زید رضی الله عنهما وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ یوه وړه ډلګۍ (سریة ) الحرقات ته واستولو ، هلته له رسیدو وروسته خلک و وېریدل او وتښتیدل. موږ یو کس اسیر ونیولو نو هغه کلمه وویله : لااله الاالله .. خو موږ ووهلو تر دې چې ووژل شو. کله مو چې د خدای رسول ته کیسه وکړه ، هغه راته وویل : د قیامت په ورځ به څوک د لااله الا الله ځواب وایي ؟ زید وایي چې ما ورته وویل ، چې ای د الله رسوله هغه کس د وسلې له ویرې دا کلمه وویله ؛ نو رسول الله وویل : ایا تا یې زړه ورڅیرلی و؟ چې له زړه یې خبر وې چې کلمه یې په کوم نیت ویلې ، د قیامت په ورځ به څوک د لااله الاالله ځواب وایي ؟ تر دې چې د خدای پیغمر دا کلمه بار بار تکرار کړه ، تر دې چې له ځان سره مې ویلې کاش تر دې دمه مسلمان شوی نه وای او نن مې اسلام قبول کړی وای چې دا ګناه مې راته ښښل شوي وای.

آن تردې چې قرآن کریم هدایت ورکوي هغه چاته چې په تاسو سلام اچوي او یا تاسو ته خپل تسلیم او انقیاد څرګندوي هغه ته د نه مسلمان خطاب ردوي او مسلمانانو ته حکم کوي چې:

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ كَذَلِكَ كُنْتُمْ مِنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا﴾ **(سورة النساء آیت ۹۴).**

ژباړه: ای مومنانانو کله چې د الله په لار کې جهاد لپاره ووځئ ، نو دوست او دښمن په منځ کې توپیر وکړئ. او څوک چې تاسې ته سلام واچوي ، هغه ته سمدلاسه مه وایاست چې ته مومن نه یي ، که تاسې د دنیا ګټه غواړئ نو د الله سره ستاسې لپاره د ولجې (غنیمتونو)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيري زياتي شتمنۍ شته . اخر په همدې حالت کې خو تاسې په خپله هم له دې څخه مخکې اخته شوي وئ. بيا الله پر تاسې مهربانه شو ، له امله له غور څخه کار واخلئ تاسې چې څه کوئ الله پرې خبر دی.

د دې مبارک آيت په تفسير کې ابن کثير دغه اقوال را نقلوي:

**[قَالَ الْإِمَامُ أَحْمَدُ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ، وَحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، وَخَلَفُ بْنُ الْوَلِيدِ، قَالُوا: حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ سِمَاك، عَنْ عِكْرِمة، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَرَّرَجُلٌ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ بِنَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَسُوقُ غَنَمًا لَهُ، فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ فَقَالُوا: مَا سَلَّمَ عَلَيْنَا إِلَّا لِيَتَعَوَّذَ مِنَّا. فَعَمَدُوا إِلَيْهِ فَقَتَلُوهُ، وَ أَتَوْا بِغَنَمِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا [إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا وَلا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَى إِلَيْكُمُ السَّلامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا] إِلَى آخِرِهَا.**

**وَرَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ فِي التَّفْسِيرِ، عَنْ عَبْدِ بْنِ حُمَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَة، عَنْ إِسْرَائِيلَ، بِهِ. وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَفِي الْبَابِ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. وَرَوَاهُ الْحَاكِمُ مِنْ طَرِيقِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مُوسَى، عَنْ إِسْرَائِيلَ، بِهِ. ثُمَّ قَالَ: صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ.**

**وَرَوَاهُ ابْنُ جَرِيرٍ مِنْ حَدِيثِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مُوسَى وَعَبْدِ الرَّحِيمِ بْنِ سُلَيْمَانَ، كِلَاهُمَا عَنْ إِسْرَائِيلَ، بِهِ وَقَالَ فِي بَعْضِ كُتُبِهِ غَيْرِ التَّفْسِيرِ -وَقَدْ رَوَاهُ مِنْ طَرِيقِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ فَقَطْ- : وَهَذَا خبر عندنا] (تفسير ابن كثير د نساء د سورې د ۹۴ آيت په تفسير کې).**

ژباړه: ابن عباس کيسه کوي، چې دبني سليم له قبيلې يو کس، چې ګډې ورسره وې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ملګرو د يوې ډلګۍ مخ ته تير شو سلام يي وکړ، نو خلکو ځواب ورکړ، چې تا سلام د دې لپاره واچولو چې له موږ په امن کې شې. ور پورته شو او هغه کس يې ووژلو او ګډې يې د غنيمت په توګه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته له ځانه سره راوستې نو پورته ايات نازل شو.

د حجة الوداع خطبه د رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه لويه بېلګه ده چې د مسلمان وينه، مال او عزت حرام دی:

**[حَدَّثَنَا أَبُو عَلِيٍّ الْحَافِظُ، أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ قُتَيْبَةَ الْعَسْقَلَانِيُّ، ثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِسْكِينٍ الْيَمَامِيُّ، ثَنَا عَبَّادُ بْنُ عُمَرَ، ثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، ثَنَا مَخْشِيُّ بْنُ حُجْرِ بْنِ عَدِيٍّ،**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَهُمْ، فَقَالَ: «أَيُّ يَوْمٍ هَذَا؟» قَالُوا: يَوْمٌ حَرَامٌ، قَالَ: «فَأَيُّ بَلَدٍ هَذَا؟» قَالُوا: الْبَلَدُ الْحَرَامُ، قَالَ: «فَأَيُّ شَهْرٍ؟» قَالُوا: شَهْرٌ حَرَامٌ، قَالَ: «فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا كَحُرْمَةِ شَهْرِكُمْ هَذَا كَحُرْمَةِ بَلَدِكُمْ هَذَا لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ، لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»] (المستدرك على الصحيحين للحاكم حديث ۵۹۸۲).**

د حجة الوداع په ورځ رسول الله په خطبه کې خلک مخاطب کړل او وئې ویل: دا کومه ورځ ده؟ خلکو ځواب ورکړ د حرمت ورځ ده . بیا یې وویلې دا کوم ښار دی؟ خلکو ځواب ورکړ د حرمت ښار، بیا یې وویلې کومه میاشت ده؟ خلکو ځواب ورکړ د حرمت میاشت. بیا یې وفرمایل، ستاسې وینې ، مالونه او ناموس پر یو بل داسې حرام دي لکه د دې ورځې حرمت ، د دې میاشتې حرمت او د دې ښار ( مکې مکرمې ) حرمت. حاضر خلک دې دا پیغام غایبو ته و رسوي ، له ما وروسته بېرته کفر ته مه ستنیږئ چې د یو بل ورمیږونه ووهئ یعنې یو بل ووژنئ.

پورته نصوصو او دلایلو ته په پاملرنې سره مونږ د افغانستان علماء دغه جګړه ناروا او د شریعت خلاف ګڼو او دمسلمانانو د وینو تویولو پرته ئې بل څه نه ګڼو. فلهذا د دې جګړې د ژر تر ژره بندولو فتوی ورکوو.

## <u>انتحار، انفجار د خلکو وژل، نفاق، وېره اچونه، مختلف ډول فساد، قطاع طریقی، اختطاف او هر ډول تاوتریخوالی:</u>

په اسلام کې انتحار  او انفجار  له کبیره ګناهونو څخه شمېرل کیږي ، بلکې د الله جل جلاله د حکم صریح مخالفت دی:

﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ **(سورة النساء آیت ۲۹).**

ژباړه : او  خپل ځانونه مه وژنی ، باور ولرئ چې  الله جل جلاله پرتاسې ډیر مهربان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که څوک دغه عمل ترسره کړي نو داسې وعید ورکړل شوی دی:

﴿ وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَانًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرًا﴾ **(سورة النساء آیت ۳۰).**

ژباړه : څوک چې ظلم او تیري سره داسې وکړي ،هغه به هرومرو موږ اور ته ننباسو او دا دالله لپاره څه ګران کار نه دی

، همدارنګه رسول الله ﷺ: فرمایي:

**[.. من قَتَلَ نَفْسَهُ بِحَدِيدَةٍ فَحَدِيدَتُهُ فِي يَدِهِ يَجَأُ بِهَا فِي بَطْنِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدًا مُخَلَّدًا فِيهَا أَبَدًا ] . (رواه البخاري حديث ۵۴۴۲ و مسلم حديث ۱۰۹).**

ژباړه: هر هغه چا چې ځان په اوسپنه ووژلو د قیامت په ورځ به یې اوسپنه په لاس کې وي او خپله خیټه به پرې وهي، تر دې چې جهنم ته به د دایم لپاره وغورځول شي.

د انتحار او ځانمرګو بریدونو په اړه د اسلامي نړۍ دیني علماو خپلې فتواوې ورکړي چې دغه عمل یې د شرعي دلایلو او دیني نصوصو پر بنسټ قطعي حرام بللی دی. موږ هم په دې برخه کې خپل نظر له دغه علماو سره یوځای کوو او په وضاحت وایو چې ځانمرګي بریدونه په اسلام کې حرام دي، ځکه چې د ځانمرګو بریدونو په پایله کې څو کبیره ګناهونه هم مهاله رامنځته کیږي:

<u>**لومړی**</u> : د خپل ځان وژنه ، چې په اسلام کې حرامه ده؛

<u>**دویم**</u> : ژوند د الله جل جلاله له لوري انسان ته هبه ده، نو یو انسان د هیڅ انسان د ژوند اخیستلو صلاحیت نه لري حتی که د ده د خپل ژوند مسئله هم وي؛ ځکه انسان د خپل ژوند او نفس مالک نه دی بلکې مالک یې الله قدیر ذات دی.

<u>**دریم**</u> : د ځانمرګي برید په تر سره کولو سره د دنورو بیګناه انسانانو وژل، چې په اسلام کې ستره ګناه ده؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

**<u>څلورم</u>:** له انسان څخه چې اشرف المخلوقات دی د یوې حربي وسیلې په توګه کټه اخستل انسانیت ته سپکاوی ګڼل کیږي.

**<u>پنځم</u>** : دا یوازې د ځان وژنې په اړه حکم دی او که دا ځان وژنه د نورو مسلمانانو د وژلو لپاره ترسره شي، دابیا دوه برابره ګناه ده. یو د ځان د وژلو ګناه، بله د بل مسلمان د وژلو ګناه. په دې اړه د قرآن کریم آیات مخکې ذکر شول.

په اسلام کې قطاع الطریقي (لارې شکونه) ، اختطاف، ترور او وېره اچونه او د فساد نور ډولونو په اړه ډېر سخت وعید راغلی او د دې کار تر سره کوونکي یې د الله او د الله د رسول سره جګړه کوونکي بللي. الله جل جلاله فرمایي:

﴿ إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ۚ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴾ **(سورة المائدة آیت ٣٣).**

ژباړه: کوم خلک چې له الله او دهغه له پیغمبر سره جنګیږي او په ځمکه کې د دې لپاره منډې ترړې کوي چې فساد را ولاړ کړي نو د هغو سزا دا ده چې ووژل شي یا په دار وځړول شي ، یایې لاسونه او پښې ردو بدل غوڅې کړای شي ، یا له وطنه وشړل شي ، دا د ذلت او سپکاوي خو د هغو لپآره په دنیآ کې دي او په اخرت کې د هغو لپاره له دې څخه هم لویه سزا ده.

همدارنګه مونږ علماوو ته په هیواد کې د هر راز اخلاقي، مالي او سیاسي فساد، ابتذال، فحشاء او د اسلامي اصولو او معتقداتو پر وړاندې بې تفاوتي او توهین د زغملو وړ نه دی. د حکومت او ولس څخه غواړو چې په دې برخه کې د علماوو وړاندیزونو او مشورو ته غوږ ونیسي، په دې اړه مرتکبینو ته د جزاء ورکولو او په راتلونکي کې له دغو اعمالو څخه د هغوی د مخنیوي فتوا ورکوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام د مقدس دین له نظره د الکولي مشروباتو، مخدره موادو او نورو نشه ای توکو استفاده، تولید، تورید، معامله او هر ډول قاچاق ناروا کړنې دي. که څه هم دغه ناخوالې علماوو په خپلو مخکینیو مصوباتو، فتواوو او پریکړو کې په کلکه غندلي او د مخنیوي لپاره ئې په مسئولو ادارو، چارواکو او ولس غږ کړی دی، اوس یو ځل بیا مونږ علماء په دغو ټولو ذکر شویو بنسټونو غږ کوو چې د دغو اعمالو د مخنیوي لپاره هر څوک د خپل مسئولیت او مکلفیت په اساس ګام واخلي، تر څو زموږ ټولنه له دې مهلکو مرضونو څخه وژغورل شي.

په اسلام کې تفرقه ، نفاق اچونه ، تعصب او تبعیض او د مسلمانانو ترمنځ فاصله او حتی نفرت ایجادول د قرآن کریم له دې صریح نص سره مخالفت دی چې فرمایي:

﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾ **(سورة الحجرات آیت ۱۳).**

ژباړه: ای خلکو موږ تاسې یو نارینه او یوې ښځې څخه پیدا کړئ ، او بیا مو تاسې قومونه او قبیلې وګرځولئ ، تر څو چې تاسې یو او بل سره وپېژنئ. په حقیقت کې د الله په وړاندې ستاسې څخه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوک دی چې په تاسې کې تر ټولو زیات پرهیزګار وي په باوري ډول الله په هرڅه پوهیدونکي او باخبره دی.

بالعکس الله جل جلاله مسلمانان یو والي او ورورګلوی ته رابولي، الله سبحانه و تعالی فرمايي:

﴿وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَى شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ﴾ **(سورة آل عمران آیت ۱۰۳).**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: ټول یو ځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونیسئ او تیت و پرك کېږئ مه. د الله هغه پېرزوینه در یاده کړئ چې پر تاسي یې کړې ده. تاسې یو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسي په زړونو کښي مینه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لورېنه تاسي سره ورونه ورونه شواست. تاسي د یوې له اوره ډکي کندې پر غاړه ولاړ واست، الله ځنې وژغورلاست. په دغه شان الله خپلې نښانې تاسي ته څرګندوي. په کار ده چې په دغو نښانو سره تاسې ته د خپلې ژغورنې سمه لاره په نظر درشي.

ډیری د دغو اسلام او انسانیت سره د مخالفو کړنو لپاره د ټولنیزو شبکو او رسنیو څخه کار اخیستل کېږي او دا د رسنیو حکمي شخصیت تر پوښتنې لاندې راولي. چې ګواکې زمونږ رسنۍ د دې هیواد د دښمنانو په چوپړ کې دي او خپل هیواد سره دښمني کوي.

موږ علماء  په ولس، حکومت او سیاسي او مدني حرکتونو د ټولنیزو شبکو په مسئولو ادارو او په ټولو رسنیو  باندې غږ کوو، چې د روانو ناخوالو څخه د وتلو په خاطر  خپل یو والي او  وحدت وساتي او  د دښمن د د سایسو ښکار نه شي  او د بیان د آزادۍ څخه په ناوړه ګټه اخیستلو د ولس ترمنځ د نفاق او نفرت اچولو څخه په کلکه ډده وکړي.

موږ علماء  په دې  اړه پخپل مسلمان ملت، حکومت او د اسلامي هیوادونو پر حکومتونو، علماوو او دیني بنسټونو باندې غږ کوو چې په افغانستان کې د سولې او ثبات د راوستلو لپاره خپله دیني وجیبه او وظیفه ترسره کړي او دغه ناورین ته د پای ټکی کېږدي.

 مونږ علماء په دې اړه  د نورو دیني بنسټونو هڅو ته ارزښت ورکوو او هغه په ډېر احترام سره ستایو او تائیدوو یې چې د بیلګې په ډول دار العلوم دیوبند، الازهر الشریف، رابطة العالم الاسلامي، مجمع الفقه الاسلامی، اتحاد علماء المسلمین، او د ټولو هغو مراکزو او ادارو چې په دې برخو کې فتواوې، اعلامیې او قطعنامې صادرې کړي، یاد او د هغو درناوی او ستاینه وکړو. او له یادو بنسټونو او مراکزو څخه غوښتنه کوو چې په افغانستان کې د جګړې د ختمولو لپاره زموږ د دې فتوا هر اړخیز ملاتړ او د دغه ناورین په ختمولو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ سره مرسته وکړي. همدا راز موږ د پاکستان د علماوو د وروستۍ متفقه فتوا (پیغام پاکستان) چې هر ډول انتحار یې حرام بللی او د اسلامي ریاست په وړاندې یې وسله واله مبارزه جهاد نه بلکې بغاوت بللی، تائیدوو، ستایو او ملاتړ یې کوو.

## په پای کې د پورتنیو قرآني نصوصو او احادیثو په رڼا کې مونږ علماء په اتفاق سره دا فتوا صادروو:

1. **د افغانستان اسلامي جمهوریت چې له ۹۹ فیصده ډیر خلک یې مسلمانان دي او اساسي قانون یې د سیمې په کچه تر ټولو ډیر اسلامي قانون دی پروړ اندې یې وسله واله مبارزه او د جهاد تر نامه لاندې کړنې هیڅ راز شرعي جواز نه لري؛ د دیني نصوصو په اساس د جهاد حکم یواځې د اسلامي دولت (مسلمان حاکم) صلاحیت دی.**
2. **دا چې په افغانستان کې جګړه ورځ بلې ته پسې غځیږي او هره ورځ د دې جګړې په ترڅ کې له دواړه غاړو او ولسي خلکو په لسګونو کسان وژل کیږي او د جګړې په تداوم هیڅ راز فایده مرتبه نه ده بلکې ګټې یې یوازې دښمنانو ته رسیږي نو د جګړې دواړه غاړې حکومت او طالبان باید د سولې خبرو ته کیني او روان ناورین ته د پای ټکی کیږدي؛**
3. **په اسلام کې انتحار او انفجار هیڅ ډول شرعي اساس نه لري، نو په همدې دلیل ټول تر سره کیدونکي ځانمرګي بریدونه، ترور، لارې شکول او ویره اچونه په قطعي توګه حرام دي، ترسره کول، تمویلول او ورسره مرسته کول ئې ناروا او غیر شرعي دي؛**
4. **هرهغه څوک چې سولې ته غاړه نه ږدي د الله جل جلاله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پروړ اندې مسئول دي او په ښکاره توګه د الله تعالی له اوامرو سر غړاوی کوي؛**

(c) ketabton.com: The Digital Library

5. **افغاني ټولنه يو اسلامي ټولنه ده، دهر ډول ديني او اخلاقي مفاسدو ترويجول او ټولې هغه کړنې چې له دينې اساساتو سره په ټکر او د ځوانانو د بې لارئ سبب کيږي مردودې دي او بايد مخنيوی يې وشي؛**
6. **د مسلمانانو تر منځ دقوم، ژبې او مذهب پر بنسټ هر نوع نفاق، تعصب، تبعيض او ورته کړنې د اسلام د مبين دين د اساساتو سره مغايرت لري او تر سره کوونکي د اسلامي احکامو څخه سرغړونکي شميرل کيږي، او ددغو ناروا اعمالو کړل او يا هغه ته وسيله ګرځيدل ټول منع او د سزا وړ ګڼل کيږي.**
7. **موږ د هغو افرادو، بنسټونو، ډلو او هيوادونو مداخله چې په افغانستان کې د جګړې د دوام سبب ګرځي او د افغان وژنې او نفاق لامل کيږي په کلکه ردوو او محکوموو.**

## **پای ټکي:**

- موږ علماء روان وضعيت د عميق تحليل او ارزونې څخه وروسته په دې عقيده يو چې د سولې لپاره ملی، سيمه ايزه او نړيواله اجماع را منځته شوی او د حکومت انعطاف او مخلصانه وړانديز پر دې دلالت کوي، فلهذا پر طالبانو غږ کوو چې مذاکرات او مخامخ خبرې يوازېنی طريقه ده چې د دواړه غاړو ټولو غوښتنو او ستونزو ته پکې زمونږ د اسلامی او ملي ارزښتونه سره سم د حل لارې موندلی شو.
- مونږ د افغانستان علماء مطلقا په دې عقيده يو چې اسلام د سولې، تحمل او اخوت دين دی او په اسلامي هېوادونو او ټوله نړئ کې افراطيت او خشونت تر هر نامه لاندې چې وي غندو.
- له ملي، سيمه ييزو او نړيوالو اسلامي بنسټونو، علماؤو او مجتهدينو څخه زموږ غوښتنه دا ده چې د دې فتوا ملاتړ وکړي او په دې توګه په افغانستان کې د نورې وينې توئيدنې د مخنيوي په هکله خپل مسئوليت ادا کړي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

- موږ د اسلامي مراکزو، مدارسو او ديني بنسټونو څخه ټول راغلي علماء خپله فتوا د الله عز وجل د رضا، د خپل ديني مسئوليت د اداکولو او  په افغاني ټولنه کې د سوله ئيزه او هوسا ژوند د برابرولو په موخه اعلانوو او د الله جل جلاله څخه توفيق او مرسته غواړو چې د سولې او هوساينې په برخه کې زموږ مرسته وکړي.

و الله ولي التوفيق

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**